DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۷۸۵

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

لسم کال - دویمه دوره، ۷۸۵ گڼه، پر له پسې ۱۸۵۲ مه گڼه، د ۱۳۸۹ ل ـ د غبرګولي ۳ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الثاني ۱۰ مه د ۲۰۱۰ د مې ۲۴ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

د کندهار علمیات او د عامو خلکو اندېښنې

په داسې حال کې چې په کندهار ولایت کې د لویو پوځي عملیاتو د ترسره کولو لپاره چمتوالی نیول کېږي، خو په ولسي جرګه د کندهار د خلکو استازي په دې ولایت کې د افغان او بهر نیو امنیتي ځواکونو پر همغږۍ ټینګار کوي. همدا راز په کندهار ولایت کې د وروستیو نا امنیو له کبله افغان ولسمشر حامد کرزی هم اندېښمن دی. ولسمشر کرزي په دې وروستیو کې په یوه خبري غونډه کې په کندهار ولایت کې د افغان او بهر نیو امنیتي ځواکونو تر منځ د یوې غونډې د جوړېدو غوښتنه کړې ده. په کندهار کې د پراخو پوځي عملیاتو د پیلولو لپاره له روانو تیاریو سره جوخت په ولسي جرګه کې د دغه ولایت استازو د عملیاتو له پیل نه مخکې د افغان او بهر نیو ځواکونو تر منځ د همغږۍ د رامنځ ته کولو غوښتنه وکړه. ۳مخ

نشست مالدیف، نتایج و دیدگاه ها

قرار است این هفته، نشست مخالفان حکومت در مالدیف، توسط همایون جریر، داماد گلبدین حکمتیار برگزار گردد. قبلا نیز نشست مشابهی با اشتراک تعدادی از نماینده گان شورای ملی، در مالدیف برگزار شده بود.

سیامک هروی، یکی از سخنگویان رییس جمهور حامد کرزی می‌گوید، حکومت در این نشست نه نماینده‌یی دارد و نه سازماندهنده آن است.

با این وجود، تحلیلگران معتقد اند که این نشست، نتایجی در روند مصالحه با طالبان و حزب اسلامی ندارد.

تعدادی به این نظر اند که ممکن است، این نشست تلاش‌های حزب اسلامی به رهبری حکمتیار برای مصالحه باشد، اما وحید مژده، تحلیلگر مسایل سیاسی کشور، معتقد است که همایون جریر با آنکه ارتباط خانواده گی با گلبدین حکمتیار دارد، اما نمی‌تواند، از حزب اسلامی نماینده گی کند. در ترکیب هیأتی که قبلا از سوی حزب اسلامی به رهبری گلبدین حکمتیار به کابل آمده بود، همایون جریر نقشی نداشت.

مژده نشست مالدیف را مشابه کنفرانس قبرس می‌داند که پیش از یازدهم سپتمبر سال ۲۰۰۱، برگزار شد، اما نتیجه‌یی در پی نداشت.

د ولسي جرګې نوی دریځ:

که زمورږ غوښتنې ونه منل شي؛ ملي مشورتي جرګه به تحریم کړو!

د افغانستان ولسي جرګې افغان ولسمشر ته ګوابښ وکړ، چې که د کابینې پاتې غړي ور ونه پېژني، نو د سولې په جوړېدونکې جرګه کې به ګډون ونه کړي.

جرګې دویمه خپله عمومي غونډه د چوپې خولې په اعتراض سره تېره کړه. خو افغان ولسمشر ته نژدې کسانو وړاندې ویلي، ژر به ولسمشر د کابینې د پاتې غړو لپست ملي شورا ته واستوي.

ولسي جرګه دار نګه د ولسمشر دویم مرستیال کریم خلیلي ته هم د بیړنیو حالاتو د کومېټې د رپوټ نه ور ګولو پر سر قهر ېدلې ده او له دغه دویم کاره یې د استعفا غوښتنه کوي، خو قانون پوهان وایي چې ولسي جرګه د ولسمشر د مرستیالانو د ور بللو حق نه لري. د دویمې پرلپسې ورځې لپاره په ولسي جرګې کې استازو د اعتراض په توګه د جرګې په عمومي غونډه کې پر هېڅ موضوع بحث ونه کړ او وړمه ورځ یې د چپې خولې اعتراض ته دوام ورکړ. خو په هرو پنځو دقیقو کې وکیلانو خپل میزونه په دې موخه ډبول، چې ددوی په وینا ولسمشر ته په چوپه خوله وښیي، چې د کابینې د پاتې ۱۱ غړو ور پېژندلو ته په تمه دي.

د جرګې مشر محمد یونس قانوني د ناستې په پای کې د یکشنبې د ورځې اعتراض اعلان کړ: ' نن یکشنبې بیا ښاغلو وکیلانو داساسي قانون پر بنسټ د کابینې د پاتې غړو د نه ور معرفي کېدو او د بیړنیو حالاتو د کمېسیون ۳مخ

مظاهره چیان خواهان استعفای والی بامیان شدند



بامیان- صدها تن از مظاهره کننده گان خشمگین ، صبح دیروز دروازۀ مقام ولایت بامیان را سنگباران نمودند و خواهان استعفای والی این ولایت گردیدند. مظاهره چیان که بیش از ۱۰۰۰ تن تخمین می شد، حوالی ساعت ۹ صبح (۲ جوزا) از آخر بازار شهر بامیان حرکت کردند، با عبور از میدان هوایی، در مقابل مقام ولایت تجمع نمودند. این مظاهره که از طرف شورای ولایتی راه اندازی شده بود، تظاهر کننده گان علیه والی بامیان (حبیبه سرابی) شعار می دادند.

تظاهر کننده گان که در دست ها چوب داشتند، ادعا می کردند که والی همیشه وعدۀ بازسازی می دهد، اما عملی نمی شود. به دلیل این مظاهره بازار، مکاتب نزدیک به شهر، دفترهای دولتی، راه های مواصلاتی چند قریه با شهر بامیان مسدود شده بود.

محمد جواد ضحاک رییس شورای ولایتی بامیان در مقابل دروازۀ مقام ولایت گفت: "ما خواهان استعفای والی تا ۱۲:۰۰ ظهر امروز هستیم."

وی همچنان هشدار داد: اگر والی در وقت تعیین شده استعفا ندهد، هر عملی که از طرف تظاهر کننده گان صورت گرفت، مسوولیت به دوش آنها نخواهد بود. احمد حسین یکی از تظاهر کننده گان گفت که والی هر بار ص۳

اوباما وایي په افغانستان کې له سختې جګړې سره مخ یو

ښاغلي اوباما دا ځر ګندوني د امریکا د وېښتې پوانټې پوځي اکاډیمۍ فارغانو ته کړې دي.

بارک اوباما وویل چې په افغانستان کې ثبات راوستل د هغوی لپاره تر ټولو لوی ګوابښ دی: ''مورږ په افغانستان کې له یوې سختې جګړې سره مخ یو، هغه بغاوت چې مخامخ ګوابښ ورته متوجه وي، نوي تاکتیکونه به غوره کوي، له مارچې څخه تر کندهاره طالبان له بې درغه وژنو، او ترهې اچولو سره دا کار کوي، دا جګړه په تېرو نهو کلونو کې بدله شوې، خو د سپتمبر تر بریدونو وروسته یې اهمیت کم نه دی.''

د امریکا ولسمشر وویل چې دوی د طالبانو رژیم نسکور کړ او په وینا یې همدا وخت باید د طالبانو د بغاوت زور مات شي. اوباما دې ته هم اشاره وکړه چې څومره ژر کېدای شي، افغان ځواکونه دې وروزل شي.

ده وویل چې د جګړې ۳مخ

مژده معتقد است که هدف از راه‌اندازی این‌گونه نشست‌ها، بیشتر از اینکه دست یافتن به توافقی در مورد مصالحه باشد، مطرح شدن سازمان‌دهنده گان آن است؛ زیرا به گفتۀ مژده، گرداننده گان نشست مالدیف معتقد اند که سرانجام خارجی‌ها مشکل افغانستان را از راه نظامی حل کرده نمی‌توانند و در یک توافق با مجموع طرف‌ها، به مشکل افغانستان خاتمه خواهند داد.

مژده افزود: ''فکر می‌کنم هدف این است که این جلسات با وجودی که می‌دانند، به نتیجه یی نمی‌رسند، ادامه پیدا کند، اما بالاخره آن‌ها می‌دانند که مسألۀ افغانستان از راه جنگ حل نمی‌شود و خارجی‌ها بالاخره می‌خواهند، یک روز تمام جناح‌ها و تمام اطراف قضیۀ افغانستان را باهم جمع بکنند، به شمول طالبان و حزب اسلامی ص۳

د اوباما پښې هم ورپرېدې

۲

یک مقام نظامی ارشد بریتانیا:

بریتانیا بی‌پول دیگر نمی‌تواند در افغانستان ایفای نقش کند

سربازان بریتانیایی به طرز وحشتناکی خسته بوده و بدون هیچ دلیل موجهی کشته می‌شوند

یک مقام نظامی ارشد بریتانیا که نامش فاش نشد، اعلام کرد که کشورش به دلیل کمبود بودجۀ کافی دیگر نمی‌تواند، در جنگ افغانستان ایفای نقش کند. به گزارش هفته‌نامۀ بریتانیایی "ایندیپندنت آن سندی "، یک مقام نظامی ارشد بریتانیا که نامش فاش نشد گفت: سربازان بریتانیایی به طرز وحشتناکی خسته بوده و بدون هیچ دلیل موجهی کشته می‌شوند. وی افزود: گفتگوها با قوماندانان امریکایی در حال حاضر در جریان است که بر اساس آن مسیر برای کاهش تعهد نیروهای بریتانیایی در جنگ افغانستان هموار خواهد شد. این مقام اظهار داشت: ۱۰ هزار نیروی بریتانیا شاهد میزان تلفات بسیار بدی است و قرار است که در ادامۀ این جنگ، به آن ها استراحتی داده شود.

وی گفت: امریکایی‌ها اساسا می‌دانند که ما پول نداریم. وزارت دفاع هر چه که می‌گوید، به طور قطع اوضاع عادی نیست. این در شرایطی است که گروهی از وزرای بریتانیایی که به افغانستان سفر کرده بودند، پس از دیدار با مقام های افغان تأکید کردند که دولت ایتلافی جدید بریتانیا که متشکل از احزاب محافظه‌کار و لیبرال دموکرات است، هیچ‌گونه ضرب‌الاجلی برای خروج نظامیان بریتانیایی تعیین نکرده است.

د لوی اویښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

احزاب و ختم موعد رسمیت

بعد از انقلاب کبیر فرانسه و تشکیل نظام های دموکراتیک سرمایه داری در کشور های پیشرفتهٔ اروپایی به جای نظام های استبدادی و میراثی فیودالی، تشکیل سه قوه و انتخاب و رای شاخصه های اصلی این نظام ها بود و برای برپایی انتخابات ، اشد ضرورت به آزادی بیان، رسانه ها و احزاب به میان آمد و لذا فعالیت این بخش ها رسمی قرار داده شد و در قانون های اساسی این کشور ها درج گردید و از آن به بعد، دولت های حاکم این کشورها با رای و انتخاب مستقیم مردم به میان آمده و این روند در این کشور ها تا حال جریان دارد. بعد ها که در برخی از کشورهای رو به توسعه، نظام های جمهوری به میان آمد، در برخی ها به طور کامل ودر برخی دیگر به صورت نیم بند، رای و انتساب رعایت گردید. مثلا همین اکنون در مصر، سوریه ، لیبیا و بعضی کشورهای دیگر با اینکه نام این کشور ها جمهوری است، اما تفاوتی با نظام های شاهی ندارد. درایران نه آزادی بیان وجود دارد و نه احزاب رسمی شده می توانند و انتخابات در آن زیر تسلط کامل چند ملا به نام شورای نگهبان قرار دارد و هرکه را دل آنان بخواهد، اجازهٔ شرکت در انتخابات می دهند و دیگران را حذف می نمایند و به این صورت، در ایران کاریکاتوری از آزادی ها وجود دارد.

اما در کشور ما با اینکه در زمان شاه امان الله، درز مان ظاهر شاه و بعد در دههٔ دموکراسی با اینکه رژیم های شاهی حاکم بودند، اما رای و انتخاب به شکل بسیار ابتدایی آن وجود داشت و پارلمان های فورمولیته(جز دورهٔ هفت پارلمان) به میان می آمد و هیچگاه احزاب به شکل قانونی آن فعالیت نمی کرد و در باره اینکه در قانون اساسی ۱۳۴۳ آزادی احزاب درج شد و پارلمان هم این قانون را تصویب نمود، اما شاه حاضر نشد، تا آنرا توشیح نماید و به این ترتیب، بار دیگر فعالیت قانونی احزاب از میان رفت، ضمن اینکه احزابی با گرایش های چپ، راست و میانه هم در زمان شاه محمود خان و هم در دههٔ دموکراسی ساخته شدند و راه برای کودتاهای بعدی از آن طریق باز شد.

بعد از کنفرانس بن و تصویب قانون اساسی سال ۱۳۸۳ که سیاست اقتصادی بازار آزاد و ادارهٔ بر طبق کشور های دموکراتیک غربی در آن به تصویب رسید، آزادی بیان، آزادی رسانه ها و آزادی احزاب نیز، درج آن شد و به این صورت به زودی ۱۰۸ حزب در وزارت عدلیه ثبت و راجستر شدند. این احزاب که اکثر از استحالهٔ تنظیم های گذشته به میان آمده بود، در وضعیت سیاسی جدید نقشی ایفا کرده نتوانستند و به این خاطر، بسیاری آنها به زودی از میان رفت هیچ رغبتی برای شرکت در این احزاب پیدا نکردند. بسیاری این احزاب نه به خاطر نقش داشتن در اوضاع سیاسی، بلکه بیشتر به خاطر جلب کمک های خارجی ها ساخته شده بود و چون بسیاری از آنها به این هدف نرسیدند، لذا کسی دل به عضویت آنها نداده، به زودی دفتر و دیوان شان از سطح بازار جمع گردید.

با درنظر داشت وضعیت جدید، تعدیلی در قانون رسمیت احزاب به میان آمد و اعلان شد که هر حزب باید برای رسمیت خود حداقل ده هزار کارت عضویت را به دفتر راجستر احزاب بیاورند و تا سر از نو راجستر شوند و اعلان شد که اگر تا ۳۱ ثور این احزاب شرایط جدید را پوره نسازند، منحل اعلان خواهند شد، کمیسیون رسمیت احزاب اعلان کردند که تا ختم این موعد فقط حزب مشارکت نجیب الله کابلی قادر به پوره کردن شرایط جدید شده و رسمیت خود را به دست آورده و بر این اساس، تمامی ۱۰۷ حزب دیگر باید منحل شده باشند. این احزاب که برای رسمیت جدید شان قادر به جمع آوری ده هزار کارت عضویت نشده و قبلا هرکدام مدعی داشتن ده ها هزار عضوبودند، حال معلوم شد که این همه تبلیغات و ادعاها کذب بوده است. اینکه بالاخره بعد از انحلال چقدر حزب قادر به رسمیت یافتن می گردد ، بعد ازین باید دید. اما آنچه مسلم است اینکه مردم افغانستان به خاطر جنایاتی که بعضی گروه ها و حزب دموکراتیک خلق در حق شان روا داشته، چندان رغبتی به شرکت در این احزاب ندارند و اما که این صفحه کاملا دگرگون شود و شرایط با احزاب جدیدی وارد عرصه گردد.

د اوباما پښې هم ورپرې دېدې

میوند

کې يې ښه نوم نه درلود او پر بشري جنايتونو تورن کسان وو. له همدې امله پر دولت باور يا ببخي له منځه لاړ او يا هم کمزوری شو او خلکو تر ډېره د مخالفو وسلوالو او يا طالبانو پلو ته پاملر نه واړوله او له هغوی نه يې تر يوې اندازې ملاتړ هم اعلان کړ. اوس چې اوباما د افغانستان لپاره خپله نوې ستراتېژي طرحه او د پلي کولو اقدام يې کړی، نو ورسره وسلوال مخالفت هم په پوره پيمانه پيل شوی او هره ورځ دا مخالفت د پراختيا او ځواکمنتيا په حال کې ځه دی، ځکه دوی چې په لومړي سر کې ځه ويلي وو، هغسې يې ونه کړل، دوی افغان ولس ته د سولې پر ځای جګړه راوړه، نور نور پوځونه يې راوستل او د جګړې ډګر يې پرې نور هم تود کړ، ځکه د پوځي نفوذ پراختيا او د پوځيانو ډېرښت پخپله د جګړې د زيږون مانا لري. اوسمهال چې نور په افغانستان کې د امريکا ګټې هم له ګواښ سره مخ دي، نو امريکا يې هم ورخطا کړې ده. که څه هم اوباما افغانستان ته د خپل وروستي سفر پر مهال په باګرام هوايي اډه کې خپلو پوځيانو ته وويل، چې که چېرې په افغانستان کې د دوی ګټې نه وي، نو يوه ورځ به هم خپل پوځونه په افغانستان کې پرې نه ږدي. خو د روانو حالاتو په پام کې نيولو سره د نومورې هغه خبرې هم د بيا تجديد غوښتنه کوي او له سره غور ته اړتيا لري، له همدې سره بل اړخ ته بيا په دې وروستيو کې د بهر نيو پوځونو او افغان دولت پر ضد مقاومت هم زور اخيستی او ورځ تر بلې تودېږي. بايد ووايو، لکه څومره چې د دوی پوځي ستراتېژي پياوړې شوې، هومره يې د تلفاتو کچه هم ورسره پورته ختلې او په دې توګه اوس هره ورځ د دوی لپاره يوه خونړی ورځ وي. له دې سره جوخت په امريکا او همدا شان د متحدانو په حکومتونو کې يې د ننه هم د عام ولس غږونه

د افغانستان جګړه يوه داسې جګړه ده، چې د ګټلو چانس يې اوسمهال له امکان نه وتې خبره ده، ځکه دا جګړه د دې پر ځای چې د پای خواته قدم ووهي، ورځ په ورځ نوی رنګ غوره کوي او د ځوانښت په لور درومي. په همدې لړ کې کله چې په سيمه او افغانستان کې د ترور پزم او القاعدې د ورکولو په موخه او پلمه د امريکا په مستقيمه مداخله د طالبانو واکمني رنګه شوه او بلاخره دوی خپل پوځونه د سوله ساتې پوځ (ايساف) تر نامه لاندې د ناټو په مشوره افغانستان ته واستول، نو هغه مهال له يوې خوا د طالبانو حکومت له پښو غورځېدلی و او دوی خورا کمزوري شوي وو او له بلې خوا د افغانستان د عام ولس عامه ذهنيت هم نور د جګړو هيله نه درلوده او د سولې او ارام ساه يې غوښتله. په همدې ډول په لومړيو وختونو کې هر څه تر يوې اندازې سم روان وو او خلکو هم يو څه هيله مندي ښوولې، خو له بده مرغه په ډېر لنډ وخت کې هرڅه بدل شول. همدغو بهرنيو پوځونو چې د سولې نارې يې وهلې، پر سوله يې بريدونه وکړل او سوله يې وداغله. که څه هم په لومړي سر کې دوی چا ته څه نه ويل او چلند يې هم له ولس سره ډېر عادي و او بل دا چې د دوی شمېر هم ډېر زيات نه و. کله چې هغه د چا خبره د دوی ستر ګې خلاصې شوې، نو پر ببلابېلو داسې کړنو يې لاس پورې کړ، چې ورو ورو يې د خلکو په زړونو کې د سوله ساتې پوځ پر ځای، د سوله ورانې پوځ څېره غوره کړه. حالات همداسې ورور ورور د ناسمون په لور روان شول. په دې توګه له يوې خوا د حالاتو په پام کې نيولو سره د دوی په شمېر کې هم زياتوالې راغی او له بلې خوايې له افغان دولت سره په ناهمغږۍ، خپلسرې بمباری، خپلسرې وژنې، تلاشۍ، بېرحمانه ځوروني، نيونې او په ببلابېلو نومونو تورنول او ځپل هم پيل کړل او له دې سره دوی نور د ملت له زړونو هم کډه وکړه او پر ځای يې د کرکې اور په زړونو کې بل شو. دا ډول کړنو او د دوی پراخ پوځي نفوذ د دې زمينه برابره کړه، ځو د طالبانو ليکې لاپسې پياوړې شي، له همدې امله د وسلوالو مخالفانو په ليکو کې هم ورځ تر بلې ځواکمنتيا او پياوړتيا پيدا شوه او يا په بله وينا ملت تر ډېره له دولت نه مخ واړاوه، ځکه دولت هم د ولس هغه غوښتنې چې درلودې يې ونه منلې او په خپله په دولت کې ځيني داسې کسان پر دندو وګومارل شول، چې په ولس پورته شوي او له افغانستانه يې د خپلو سرتېرو دايستلو غوښتنې کړې دي او له بلې خوا په يادو حکومتونو او هېوادونو کې هم داسې ګنګوسې راپورته شوي، چې نور نو د افغانستان جګړه دوی ته ستړې کوونکې ده او د ګټلو چانس يې هم ناشونی دی. په همدې لړ کې د امريکا ولسمشر بارک اوباما وړمه ورځ يوشمېر فارغو شويو امريکايي پوځيانو ته په خپله وينا کې وويل، چې د افغانستان جګړه لا هم هماغسې اهميت لري، چې پر ۲۰۰۱ کال پر امريکا له ترور بستې بريدونو وروسته يې درلود. خو ده په عين حال کې پر خپلو متحدانو هم غږ وکړ، چې ورسره ودرېږي او هغه د چا خبره پر خالي ميدان يې يوازې پرې نه ږدي، ده وويل: ((امريکا خپلو متحدانو ته اړتيا لري، چې په افغانستان کې له امريکا سره ودرېږي.)) ولسمشر اوباما دا خبره د حربي اکادېمۍ نويو فارغو شويو محصلانو ته په داسې حال کې وکړه، چې د ناټو ترون ځيني غړي هېوادونه وايي، چې خپل ځواکونه به له افغانستانه وباسي. دا خبره د دې ښکاره ثبوت دی، چې امريکا نور په افغانستان کې خپل هغه پخوانی مورال اوس بايللی او د خپلې پردې لاړې چارې ګوري او ورسره په ځنګ کې متحدان يې هم له خدايه دومره فرصت غواړي، چې د دوی وتو ته لار پرانېږي. ځکه په لومړيو کې د امريکا حکومت ته د افغانستان جګړه هسې يوه خبره ښکارېده، خو اوس پوه شول، چې د افغانستان جګړه يوه لېونۍ جګړه او هېڅ سور او بور يې معلوم نه دی. او باما دا هم وويل: ((سره له دې چې د امريکا پوځ د دې هېواد د ملي دفاع اساس او بنياد دی، خو دا مسوولیت (افغانستان) يوازې امريکايي پوځيان پر غاړه نه شي اخيستلی.))

خو له دې سره په ځنګ کې امريکا ته ډېرو نږدې متحدانو يې هم نور د افغانستان له جګړې لاس مينځلی او دا جګړه يې يوه لېونۍ او بې سوره جګړه بللې ده، له دې جملې نه هالېنډ او کانادا ويلي، چې په افغانستان کې به د خپلو ځواکونو ماموريت اوږد نه کړي او پر تاکلي وخت به خپل سرتېري له دې هېواده وباسي. دا هغه وخت دی، چې نور نو د افغانستان د جګړې د ګټلو هيلې پر نهيليو بدلې

۳ مخ

چرخ ترافیکی یا آزمونگاه ترافیک

به قلم: م. نبی هیکل

به نظر می رسد، این حقیقت درست باشد که چرخ ترافیکی پدیدهٔ تازه یی در حیات ترافیک در کشور ما می باشد. ما همه با چار راه هم در اصطلاح و هم در معنا و در عمل آشنا هستیم و تا حدی می توان اصطلاح در چارراهی فرار داشتن را در رابطه با ترافیک نیز، به کار ببریم. روزانه به صورت تکرار می توان دید که عابر پیاده رو، کراچی ران، بایسکل ران، رانندهٔ موترسایکل و رانندهٔ موتر، در چارراه (چرخ ترافیکی) راهش را گم کرده، یا گیر مانده است. در چنین حالت، در مقطع معین زمانی همهٔ آنانی که صبح به قصد کار از منزل بیرون شده اند، در چارراه ها باهم ملاقی می شوند و می خواهند، از همدیگر سبقت نمایند. وقتی در این چرخ گیر می افتید، از خود می پرسید، ملامت کیست؟

اگر ما همه ملامت نمی بودیم و می دانستیم، اخلاق ترافیک چیست؟ نیازی به ترافیک و مقررات ترافیکی وجود نمی داشت. این ضرورت از نیاز توافق بر نظم معین ترافیکی ناشی می شود ونیاز داشتن نظم یا مقررات ترافیکی ضرورت تعمیل و حراست از اجرای این نظم را با خود می آورد. نظم به صورت طبیعی نیز، در نتیجهٔ رشد روابط به وجود می آید و ما این نظم را در ترافیک شهر کابل زمانی در می یابیم که اخلاق ترافیکی امروز را با چند سال قبل مقایسه نماییم. ترافیک کارهایی را انجام داده که برخی از آنها به برنامهٔ درازمدت ارتباط می گیرد، مانند نصب علایم ترافیکی برقی و تصویری. قابل یادآوری است که چند بار در چارراهی قلعهٔ نجاران شاهد این پیشامد راننده گان بودم که به چراغ سبز می ایستادند و زمانی که چراغ سرخ می شد، حرکت می کردند؛ در حالی که افراد موظف ترافیکی خیره خیره به آنان می نگریستند. آنها به صورت حتم منتظر حادثه یی بودند، تا فرصت مداخله برای آنان میسر گردد. نکتهٔ دیگر مورد سوال در این رابطه این است که پرسیده شود، آیا این راننده گان جواز راننده گی دارند و آن را چگونه و از کجا به دست آورده اند؟ چه زمانی داشتن جواز راننده گی یک راننده باید کنترول گردد؟

و باز این سوال پیش می آید که ترافیک در چنین محلات، برای انجام کدام وظیفه توظیف شده است که کاری انجام نمی دهد؟ اکنون واضح است که مسوولیت بر عهدهٔ کیست. مسوولیت استفاده کننده گان از جاده این است، تا مقررات استفاده از جاده را رعایت نمایند. کنترول آز رعایت این مقررات، بر عهدهٔ پولیس ترافیک قرار دارد.

بازهم عدم وجود کنترول یا سهل انگاری ناشیانه در آن مورد از سوی پولیس ترافیک و فقدان علایم ترافیکی روی چرخ ترافیکی، کار پولیس ترافیک و استفاده کننده گان را دشوار ساخته است. پولیس ترافیک در طی هشت سال نتوانسته، این مشکل را حل نماید. ما هر روز از چندین چرخ ترافیکی می گذریم و می بینیم که پولیس ترافیک از برقراری نظم و جریان عادی ترافیک عاجز مانده است. نابلدی با چرخ ترافیکی، چنین عواقبی را دارد.

هرگاه چرخ ترافیکی یی با وسعت چرخ هایی که در کابل اعمار شده است، با معابر بیرونی، وسطی و داخلی تقسیم شود و بنادر ورودی به چرخ با علایم مربوط نشانی شود، هم جریان عادی ترافیک در دراز مدت تامین می گردد و هم کار قضاوت در صورت تخلف آسان می شود.در چرخ ترافیکی که در انتهای زیژنتون و آغاز سرک وزارت امور داخله، واقع است، ترافیک به جای تنظیم جریان عادی در چرخ

ص۳

جنګ یا صلح؛ انتخاب...

ګذشتهٔ بیش از ۴۰ کشور حامی افغانستان، نقش بر آب نشود.

ترک خشونت و احترام به قانون اساسی افغانستان که آزادی های مدنی و حقوق بشر را تضمین می کند، در صدر این شرایط قرار دارد.

دولت افغانستان شورشیان را «برادران ناراضی» می داند و باور دارد که بدرفتاری با این افراد و فقر اقتصادی و بیکاری، بسیاری از آنها را به صفوف طالبان کشانده و با این بودجه، زمینهٔ بازگشت و ادغام مجدد شان در جامعه فراهم خواهد شد.

مهمترین مسأله یی ذهن افغان ها را به خود مشغول ساخته این است که چگونه طالبانی که در این هشت سال حتا یک وجب از خواسته های شان کوتاه نیآمده اند، حالا حاضر خواهند شد، سلاح شان را به زمین بگذارند.

افراد نزدیک به رییس جمهور کرزی می گویند که شورشیان تنها در بدل گرفتن سهم شان در دولت افغانستان حاضر به دست برداشتن از خشونت خواهند شد. معین مرستیال، نمایندهٔ کندز در پارلمان می گوید: "تمامی گروه های سیاسی و جهادی در دولت افغانستان سهم دارند. از چهره های حکومت کمونیستی تا تنظیم های مجاهدین. این سوال پیش طالبان وجود دارد که چرا آنها در حکومت وجود نداشته باشند؟"

گزینهٔ دوم:

اما حتا در میان خود سازنده گان طرح گفتگو با طالبان، این تردید وجود دارد که رهبران تندرو آنها که رابطهٔ تنگاتنگ با افراطگرایی منطقه یی دارند، هیچگاه حاضر به ترک مقاومت و پیوستن به برنامهٔ آشتی ملی نخواهند شد.

از این رو است که مارک سیدول، دیپلومات ارشد ناتو در افغانستان می گوید که اگر طرح گفتگو با طالبان به نتیجه هم برسد، "عده یی از عناصر آشتی ناپذیر" باقی خواهند ماند که باید از بین برده شوند. هرچند شریکان خارجی کرزی می گویند که از طرح او حمایت می کنند، اما از سوی دیگر، آنها یک گزینهٔ دیگر را هم باز گذاشته اند.

ناتو هم اکنون آماده گی عملیات نظامی را در ولایت قندهار، مرکز شورش های افغانستان، به مراحل نهایی رسانده است. این عملیات در ماه جون، درست چند روز بعد از جرگهٔ مشورتی صلح برنامه ریزی شده است. در مذاکره به روی طالبان باز است. توپ حالا در زمین شورشیان است. این طالبان اند که از این دو گزینه یکی را انتخاب کنند. گفتگو یا صلح یا ادامهٔ جنگ و شورش.

چرخ ترافیکی یا...

ترافیکی، به عراده جات مربوط به وزارت امور داخله خدمت می نماید. در این چرخ، اغلب به همین دلیل دو ترافیک توظیف گردیده، تا یکی نه دیگری به تأمین جریان عادی ترافیک اقدام نماید، مگر با تأسف این مامول هنوز برآورده نشده است.

وقتی موتری می خواهد وارد سرک وزارت داخله گردد و یا از آن وارد چارراهی شود، ترافیک دیگر عراده ها را، هرچند در چرخ ترافیکی نیز قرار داشته باشد ، توقف می دهد و به قدرت حق می دهد. زیرا ترافیک جزی از وزارت داخله می باشد. معلوم می شود که ترافیک را باید نخست با قانون ترافیک آشنا ساخت و سپس مامورش کرد.

ریاست ترافیک و وزارت امور داخله بهتر از نگارنده این را می داند. ممکن است، تضاد منافع استفاده کننده گان جاده و منافع آنانی که وظیفهٔ تأمین جریان عادی و سالم ترافیک بر عهدهٔ آنان است، موجب تاخیر در این کار باشد.

نکتهٔ دیگر قابل یاد آوری همین مسألهٔ تأمین جریان عادی ترافیک است، هدفی که پولیس ترافیک برای آن مقررات وضع نموده ، از رعایت آن حراست می کند و تعزیرات بر تخلفات از این مقررات را وضع و اجرا می نماید. نه تنها پولیس ترافیک تاکنون با وصف تلاش ها به این امرموفق نگردیده، بلکه کار انجام شدهٔ پولیس ترافیک نیز هدفمند و موثر نبوده است. یک مثال به حیث مشت نمونهٔ خروار می آورم. پولیس ترافیک به صورت معمول در چرخ ترافیکی سرای شمالی، تهیهٔ مسکن به یک طرف ساختن ترافیک جاده اقدام می ورزد، تا به زعم خودش، از ازدحام ترافیک بکاهد. چنین اقدام نه تنها به ازدحام درجای دیگر می انجامد، بلکه دردسر دیگری برای استفاده کننده گان جاده به وجود می آورد. پولیس ترافیک به این ترتیب کار خود را آسان می سازد؛ در حالی که کار دیگران را دشوار. از نظر دور ساختن یا پنهان کردن یک مشکل به هیچ وجهه به معنای حل آن مشکل نمی باشد.

نشست مالدیف...

و در آن زمان این‌ها می‌خواهند که به عنوان یک طرف مطرح باشند". به این ترتیب، مژده معتقد است که هدف سازمان‌دهنده گان نشست مالدیف این است که این مسأله را زنده نگه‌دارند و ادامه بدهند، تا چیزی به عنوان "نشست مالدیف" در اذهان باقی بماند و بتوانند، نقشی در توافقات احتمالی آینده، داشته باشند. با این وجود، مژده معتقد است که این حرکت، به هیچ عنوان نمی‌تواند، یک حرکت صرفا افغانی باشد. به گفتهٔ وی، جهت‌ها و حلقه‌های بیرونی برای تمویل آن وجود دارند. زیرا او معتقد است که افراد نمی‌توانند، نشست پرهزینه‌یی چون نشست مالدیف را تمویل کنند: "من به هیچ صورت باور ندارم که این کار فقط و فقط یک حرکت افغانی باشد و پشت سر کدام دستی، برای تمویل‌اش وجود نداشته باشد". به گفتهٔ مژده، کنفرانس قبرس قبل از یازدهم سپتمبر سال ۲۰۰۱ از سوی ایران تمویل می‌شد، اما معلوم نیست که نشست مالدیف، از سوی کدام کشور یا گروهی، تمویل می‌گردد. به گزارش شبکهٔ دویچه وله، هرچند که از تلاش‌هایی برای مصالحه و مذاکره با طالبان و حزب اسلامی در بیرون از کشور هر ازگاهی صحبت می‌شود، اما تاهنوز این نشست‌ها، نتایجی در قبال نداشته است. قرار است در اخیر هفتهٔ جاری، جرگهٔ مشورتی صلح در کابل دایر گردد و در آن، میکانیزم مصالحه با طالبان و حزب اسلامی، مورد موافقه قرار گیرد.

د اوباما پښې هم...

شوې دي او د امریکا ډېر نژدي ملګري هم نور امریکا ته وفادار نه دي او په دې توګه امریکا اوس په ډنګي میدان د پاتېدو په حال کې ده او له بلې خوا د افغانستان لېونی او مهمه جګړه یې هم په مخکې ده، نو خدای خبر چې دا وړی به شړی. کړي او که دوی به هم لکه د روسانو غوندې ناهیلي له افغانستانه ووځي.

د کندهار علمیات او د عامو...

په ولسي جرګه کې د کندهار د خلکو استازي احمد ولي اچکزي وویل، چې افغان ولسمشر باید یوځل بیا دغه ولایت ته سفر وکړي او هغه شمېر کسان چې له دولت څخه ناراضه دي پخلا کړي، دوی هم د امنیت په ټینګښت کې برخه واخلي.

ښاغلي اچکزي په کندهار ولایت کې د افغان دولت له خوا د پلان شویو پراخو پوځي عملیاتو څخه ملاتړ وکړ او ویې ویل چې امنیتي ځواکونه باید هڅه وکړي، په دې عملیاتو د ملکي ګړو د مرګ ژوبلې مخه ونیسي.

"زما لومړنی غوښتنه دا ده، چې ولسمشر کندهار ته لاړ او یوه ناسته ورکړي، چې ملي اردو، ملي پولیسو او ملي امنیت سره راټول کړي، سره یې یو کړي، چې د دوی ټوله قوماندې یوه شي.

هلته چې پولیس وژل کېږي، ملي اردو پرې چورت نه خرابوي، که د ملي اردو سرتیری وژل کېږي، ملي امنیت پرې چورت نه خرابوي او که پر امنیت حملې کېږي پولیس چورت نه ب پرې وهي. نو د دوی تر منځ ببلوالی راغلی او د دې لپاره باید چې کرزی هلته لاړ شي او هغه مرور ورونه چې په شاوخوا ولسوالیو کې دي په اړه یې فکر وشي، خو تر ټولو مهم د ولس خلک دي، چې ولس له حکومت سره نژدې شي."

د افغانستان په جنوب کې د کندهار ولایت، چې له پاکستان سره اوږده پوله لري، د هېواد یو له ناامنه ولایتونو بلل کېږي.

د ورکړل شویو راپورونو له مخې دغه ولایت ته وسلوال تر ډېره له پاکستانه راځي او په ورانکارو فعالیتونو لاس پورې کوي.

خو په دې وروستیو کې په کندهار کې د ناامنیو خورېدو افغان ولسمشر هم اندېښمن کړی دی او په دې ولایت کې د ناامنیو د ختمولو لپاره د افغان او بهرنیو امنیتي ځواکونو تر منځ د یوې غونډې د جوړېدو غوښتنه کړې ده.

ښاغلي کرزي ویلي دي، چې د سولې له مشورتي جرګې وروسته به د کندهار ولایت د امنیت د ټینګښت او د ستونزو د ځیرنې لپاره د امنیتي ځواکونو یوه ګډه غونډه جوړه کړي. "په دې وروستیو کې د قومي مشرانو وژنه ډېره شوې ده، چې شاید په ځینو کې یې تروریستان او طالبان لاس ولري، خو ځیني نور مرموز دي چې څنګه او په کوم دلیل؟

په کندهار ولایت کې د قومي مشرانو وژنې له هغه وخته ډېرې شوې دي، چې په کندهار کې د پوځي عملیاتو لپاره خبرې کېږي، کله چې د سولې مشورتي جرګه پای ته ورسېږي، نو باید کندهار ته پاملرنه ته ډېره شي.

امریکایان، ناټو او افغان ځواکونه باید سره راټول شوا و کښینو چې څه علت دی؟ ایا دا ټول ورانی طالب کوي؟ که کوم ګاونډی یې کوي، یا نور لاسونه د دې ترشا کار کوي نو د قضیې اصلي ریښه باید پیدا کړو، چې انشا الله وضع به ښه شي."

ښاغلي کرزي ویلي دي، چې په دې وروستیو کې د تروریستانو پام د کندهار د امنیت د خرابولو لپاره ډېرشوی دی. د ازادي رادیو د راپور له مخې، په تېرو اتو کلونو کې کندهار د وسلوالو طالبانو د فعالیت تر ټولو لوی مرکز و، چې د دې ولایت ځینې ولسوالۍ د اوږدې مودې لپاره د وسلوالو طالبانو په ولکه کې وې.

خو کله چې په کندهار ولایت کې د وسلوالو طالبانو پر ضد د پوځي عملیاتو د ترسره کولو رپوټونه خپاره شول، افغان ولسمشر کندهار ته سفر وکړ او د کندهار اوسېدونکو ته یې ډاډ ورکړ، چې دا عملیات به د دوی په خوښه د امنیت د ټینګښت لپاره تر سره کېږي، خو هغوی په کندهار ولایت کې له هرډول پوځي عملیاتو سره مخالفت وکړ.

اوباما وایي په افغانستان...

په اوږدو کې به یې د ځواکونو په مخ کې سختي ورځې وي، خو په وینا یې شک نه لري، چې له خپلو افغان او بهرنیو ملګرو سره به افغانستان کې بریالي کېږي.

ولسمشر اوباما وویل چې د القاعدې ډلې محدود کسان پاتې دي، او د نړیوالې ټولنې له خوا به ماتې ورکول کېږي. ده وویل القاعدې ته ماتې ورکول د امریکا روان کمپاین د نړیوالو هڅو یوه اړینه برخه ده چې دوام به ورکوي. د بې بي سي د راپور پر بنسټ، اوباما دا ځرګندونې داسې مهال کړې، چې د تېرې چهارشنبې پر ورځ وسلوالو د کابل په شمال کې د امریکا پر ستړي پوځي بګرام اډې ډله ییز برید وکړ.

مظاهره چیان خواهان ...

وعده می دهد، اما کار نمی کند.

وی افزود: "ما والی می خواهیم که کار کند!" حاجی احمد عضو شورا ی ولایتی و یکی از مظاهره کننده گان نیز، گفت که خواهان تبدیلی والی است.

اما در مورد این ادعاها به اخذ نظر والی موفق نشدیم. مظاهره چیان در حالی از بی توجهی مقام ها انتقاد می کنند که پریروز مجموعاً ۴۰ میلیون دالر اضافی از بودجهٔ انکشافی به این ولایت اختصاص داده شد. این رقم در یک نشست مهمی که در بامیان به اشتراک شماری از وزراء راه اندازی شده بود، اعلام گردید.

این نشست در حاشیهٔ ورکشاپ اولویت بندی ضرورت های کشور برای کنفرانس کابل بود.

در نشستی که شماری از اعضای کابینه، مقام های بلند پایه و سفیرایالات متحدهٔ امریکا در کابل اشتراک نموده بود، در آن ۳۰ میلیون دالر، از طرف سفیر امریکا و بیشتر از ۱۰ میلیون دالر، از طرف وزارت ها به این ولایت اعلام شد.

همچنان وزارت زراعت اعلام کرد که در این ولایت، ۵۰۰ ذخیره که هرکدام آن دارای ظرفیت ۲۰ تُن می باشد، اعمار می گردد، تا دهقانان حاصلات کچالو را در آن نگهداری کنند.

شورا ولایتی روز گذشته نیز، یک مظاهره را در عکس العمل به همین نشست راه اندازی کرده بود.

آنها انتقاد داشتند که دراین نشست، برای شان حق اشتراک داده نشده و مظاهرهٔ دیروز نیز دنباله یی از همان مظاهره بود.

اما صابره نوازی رییس دفتر والی بامیان گفت که به شورای ولایتی قبلا گفته شده بود که برنامه طوری تنظیم شده که در آن از ولایت بامیان تنها والی اشتراک می کند و شورای ولایتی تنها در روز سوم برای نان چاشت دعوت شده است.

وی می گوید که به شمول اعضای شورای ولایتی، ۱۲ تن از بامیان دعوت شده بود، اما شش تن آنها دعوت را پذیرفتند.

اما قرار اظهارات وی، باز هم رییس شورای ولایتی به مردم گفت که شورای ولایتی به انزوا کشانده شده، وزراء می خواهند، با مردم ببیند، اما والی مانع آنها شد.

به گزارش خبرگزاری پژواک، داکتر حبیبه سرابی باشندهٔ اصلی غزنی، از مدت پنج سال بدینسو به حیث والی بامیان ایفای وظیفه می کند.

قبلاً محمد رحیم علی یار باشندهٔ یکاولنګ بامیان، والی این ولایت بود.

که زمور غوښتنې ونه...

په مشری د رپوټ نه ورکولو او یا له دغه پوسته د ښاغلي خلیلي د نه استعفا له کبله په فوق العده او مدني توګه خپلې احتجاجي غونډې ته دوام ورکړ." لکه چې ښاغلي قانوني ورته اشاره وکړه اعتراض د کابینې د غړو په نه ور پیژندلو سربیره د بېرنیو حالاتو د کومېټې له مشریه د ولسمشر د دویم مرستیال کریم خلیلي د نه لاس په سر کېدو او یا جرګې ته دنه ورتلو پر سر اعتراض دوام لاره او د ولسي جرګې منشي محمد صالح سلجوقي ګوابنه وکړه، چې که ددوی خبرو ته اهمیت ورنه کړل شي، د سولې په مشورتي جرګه کې به ګډون ونه کړي: "مور هڅه وکړه چې د کابینې د پاتې ۱۱ وزارتونو لپاره ولسي جرګې ته د نویو وزیرانو د ورپېژندلو او په دې برخه کې د پلان په اړه د ولسمشر ددفتر دریځ معلوم کړو، خو بریالي نه شو، ولې وړاندې دوی ددغه کار د کېدو ویلي وو. "خو د بېرنیو حالاتو د کمېسیون د کارونو او مشرۍ په اړه ښاغلي خلیلي څو ورځې وړاندې بي بي سي ته وویل، چې د کومېټې د بودیجې په اړه هر چا ته معلومات ورکولی شي، خو جرګې ته د ورتلو په برخه کې یې دقانون خبره را پورته کړه. خو په ولسي جرګه کې د میدان وردګو استازي روشنک وردګ وایي، ددوی غوښتنه له قانون سره کومه ستونزه نه لري: "مور ښاغلی خلیلي د ولسمشر د مرستیال نه، بلکې د بېرنیو حالاتو د کمېسیون د مشر په توګه راغوښتی."

خو پوښتنه داده چې له حقوقي پلوه دولسي جرګې دغه دواړې غوښتنې او پر بنسټ یې شوی اعتراض څه ډول دی. د کابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځی استاد نصرالله ستانکزی وایي: "له پښو سره د مبارزې په قانون کې د بېرنیو حالاتو د کومېټې مشر ولسمشر وي، افغان ولسمشر دغه واک خپل مرستیال ته انتقال کړی، نو ولسي جرګه ولسمشر نه شي ور بللی، په دې بنسټ د جرګې غوښتې د قانون سره په تکر کې راځي. او د پاتې وزیرانو د ورپېژندلو په اړه د فشار په توګه د ولسي جرګې موضعګیرې د توجیه وړ ده او سکوت یې هم د حل لاره نه ده. له بلې خوا قانون ولسمشر ته وخت نه دی قید کړی، چې په څومره وخت کې وزیران باید ور وپېژني، نو دا یو سیاسي حرکت دي چې د هر پارلمان حق دی."

د پژواک د راپور له مخې، یو شمېر عام افغانان په دې باور دي، چې د جرګې ډېر استازي بیا کاندیدان دي او ددوی په اند په دې توګه له وړاندې خپل کمپاین تر سره کوي، خو ولسي جرګه وایي له خپلو حقونو ګټه پورته کوي او د دولتي چارو د لابنه سمون په موخه یې دغې چارې ته مخه کړې.

په قره باغ کې د نجونو لېسه په بمونو والوځول شوه

تېره شپه د غزني ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې د تمکي د نجونو لېسه د ناپېژاندو کسانو له لوري په بمونو الوځول شوې ده.

د غزني د پوهنې رییس حسني مبارک عزیزي وایي، چې د چاودنې له امله د تمکي لېسې نیمایي برخه نړېدلې ده.

هغه د غبرګولي په ۲مه، پژواک خبري اژانس ته وویل، چې دوی ته دوه ډوله خبر رسېدلی؛ یو داچې دا لېسه په بمونو الوځول شوې او بل دا چې ښوونځی په توغندي ویشتل شوی دی.

دی وایي، چې په دې اړه یې د قره باغ له ولسوال او امنیه قوماندان څخه د بشپړو معلوماتو د ورکړې غوښتنه کړې ده.

تمکي، د قره باغ لوړیځ لور ته یوه غرنۍ سیمه ده، چې تردې مهاله په کې طالبانو هېڅ وسلوال فعالیت نه درلود.

د ولایتي شورا غړې حمیده ګلستاني، چې د قره باغ اوسېدونکې ده، هم دا مني، چې د تمکي د نجونو لېسه تېره شپه په بمونو الوځول شوې ده.

نومورې زیاتوي، چې د سیمې خلکو ورته ویلي، چې د ښوونځي ودانۍ اتیا سلنه ویجاړه شوې ده. ګلستاني، د دې ښوونځي نږول د وسلوالو طالبانو کار بولي او وایي، چې تېره شپه ۵۰ وسلوال موټر سایکل سپاره ورغلي او دغه ښوونځی یې وران کړی دی.

غزني له ۱۸ ولسوالیو څخه په ۱۳ سوهلي نارامو ولسوالیو کې له تېرو پنځو کلونو د نجونو پر مخ ښوونځي ترلي دي.

طالب ویاند ذبیح الله مجاهد وایي، چې د تمکي د ښوونځي د وران‌ېدو خبر ورته رسېدلی، خو د دې ښوونځي نږول د طالبانو کار نه بولي.

خاموشی و فراموشی
۲۰۱۳ و غزنه پایتخت تمدن اسلام

هیله من غزنوی



عضو کمیته علمی- تحقیقی کمیسون شهر غزنی پایتخت فرهنگی کشورهای اسلامی. سال و اندی از نشر اخبار در رابطه به اعلام شهر غزنه به حیث مرکز و پایتخت تمدن اسلام در اسیا می گذرد که افتخار بزرگ برای ملت افغان و افغانستان عزیز می باشد، حق خدمات محمود کبیر و سلسلهٔ غزنویان و امپراتوری درخشان نیم قرن آن که دورهٔ پخش نوردین مبین اسلام در شبه قارهٔ هند بوده، از طرف وزرای فرهنگ ۵۷ کشور اسلامی اداشد، ولی تاجایی که به دولت، دولتمردان و مردم افغانستان و غزنهٔ باستان ارتباط می گیرد، کمتر تحرک و استقبال از این افتخار بزرگ دیده شده و حتا بی تفاوتی هایی در حفظ آثار تاریخی و باستانی به حد ظالمانهٔ آن به مشاهده رسیده، از شروع دههٔ هفتاد به اینسو، آثار توسط فرهنگ فروشان دزدیده و غارت گردیده و عده یی از این راه نامشروع، مالک میلیون ها دالر و ثروت شده که احتساب و پرسان از ایشان درک ندارد؛ آبدات در حال ویران شدن است، از ترمیم و حفظ آن خبری نبوده و اگر در این دوسال اخیر، کارهای انجام شده، کافی و بسنده نیست .

صرف با جلسات و فیصله های روی کاغذ اکتفا شده و کار عملی برای آماده شدن غزنه برای محفل بزرگی که به همین مناسبت تدویر می گردد، حتا آغاز نشده، مدت زمان بسیار کم مانده و بیست و چند ماه که چند ماه آن هوا سرد می باشد و کار صورت نمی گیرد. موضوع استملاک زمین تعیین اولویت های کاری و حد اقل در شهر غزنی که بهانهٔ بی امنیتی هم نیست، کار چشمگیر، نه بلکه حتا حد اقل هم صورت نگرفته است.

دلایل کم توجهی به غزنی را از تقرر هشت والی در هشت سال و هیچ کار آنهانیز، می توان درک کرد.

گویی این شهر فراموش شده فقط کورس و لابراتوار آموزش و تربیهٔ والی ها بوده و جای والی سازی است. نماینده گان ولسی جرگه و مشر انو جرگهٔ ولایت غزنی هم به عوض جلب مساعدت کشورهای اسلامی و رفتن به سفارت ها و تماس دوامدار با وزارت های مالیه و فرهنگ و شهرت سازی به جلسات بی مزه، گاهگاه اکتفا کرده اند.

مردم هم از دولت ناامیدشده و هم خود شان به عوض اینکه از امکانات تاجران خود استفادهٔ اعظمی نموده و حد اقل چهرهٔ شهر را کمی تغییر دهند، بابی تفاوتی و اعصاب خرابی می گویند:

چه کنیم لقب خالی پایتخت را خلاصه مسوولیت پذیری مردمی و دولتی در سطح صفر و حتا مسوولیت گریزی و در مواردی مسوولیت ستیزی هم به مشاهده می رسد، اگر همین آش و همین کاسه باشد و روال بدین منوال ادامه یابد، هیچگاهی عروس البلاد به خاک خفته بیدار نخواهد شد.

و آبروی غزنه و کشور ما نزد مهمانان خارجی به خاک خواهد ریخت؛ پس بیایید! از رهبر تا عسکر از انصاف کار گرفته و یکبار در پهلوی منافع شخصی به منافع ملی هم بیاندیشیم و خالق (جل جلاله) را حاضر و ناظر دانسته و کمر همت بندیم و این افتخار بزرگ را از آن خود سازیم و از این فرصت به نفع وطن و مردم خود استفادهٔ مادی و معنوی نماییم.

بس است خودبینی و خودخواهی و در نهایت آن، قوم بینی و تنظیم بینی؛ لحظه یی از فراست ایمانی و انسانی کار گرفته و به حیث افغان برای افغانستان بیاندیشیم و با آگاهی سالم عقیدوی، ملی، سیاسی و کلتوری با فورمول ناکارآمد قبلی خدا حافظی کرده به عوض تنظیم، به تعهد تقوی و تخصص و به جای قومیت، به اهلیت و به جای سهم، به فهم فکر کنیم. و هر کس و در هر کجایی که هستیم، به خاطر رضای خدای متعال، کمرهمت به خدمت وطن و مردم بسته و عزت و آبروی گذشتهٔ خود را احیاء کنیم، تا باشد در زمان فرارسیدن سال ۲۰۱۳، حد اقل مهمانان پایتخت فرهنگی کشورهای اسلامی را در غزنهٔ باستان، به خوبی استقبال و میزبانی کنیم.

جنگ یا صلح؛ انتخاب با طالبان است

هارون نجفی زاده

دولتمردان افغان با «جرگهٔ مشورتی صلح» که یک هفته دیگر برگزار خواهد شد، تلاش می کنند، شورش ها را در افغانستان مهار کنند و اگر بتوانند؛ هراس حمله های مسلحانه در مراکز شهر ها و بم گذاری های انتحاری را از دل شهروندان افغان بزدایند.

حامد کرزی رییس جمهور افغانستان و طراح این مذاکرات، تلاش زیادی کرده که حامیان خارجی اش را با خود همگام کند و در تازه ترین مورد هم موافقت بارک اوباما، همتای امریکایی اش را گرفته است.

برای مشروعیت طرح «آشتی ملی» در داخل افغانستان اما، دولت این کشور نیاز به اجماع نظر در میان گروه های سیاسی و اقوام مختلف دارد و چه وسیله یی بهتر از «جرگهٔ مشورتی صلح».

در این جرگه که در کابل برگزار می شود، ۱۵۰۰ تن از سراسر این کشور دعوت شده اند.

تمامی اعضای شورای ملی، والی ها، اعضای شورای ولایتی، نماینده گان افغان های مقیم ایران و پاکستان، فعالان حقوق زن و حقوق بشر، سران قومی از تمام ولسوالی ها و نماینده گان معلولان برای مشوره دادن به دولت افغانستان در «خیمهٔ لویه جرگه» گردهم می آیند.

در این جرگه نماینده گان گروه های شورشی حضور نخواهند داشت.

سوال اصلی:

اما مسایلی اصلی که در این جرگه سه روزه به میان خواهد آمد، این است که آیا جنگ افغانستان را می توان با توسل به گفتگو با شورشیان حل کرد؟ اگر پاسخ به این سوال مثبت بود، آن وقت شیوه های مذاکره با طالبان و اینکه با چه کسانی در میان شورشیان باید گفتگو شود، مشخص خواهد شد.

دولت افغانستان برای برنامهٔ آشتی ملی ۱۴۰ میلیون دالر تعهد کمک از جامعهٔ جهانی در کنفرانس پنج ماه پیش لندن گرفت. در بدل آن اما، متعهد شده است که شرایط مذاکره با طالبان را به گونه

ص۳

امریکایي ځواکونو په پکتیا کې دوولس تنه ووژل

وړمه ورځ لږ تر لږه دوولس تنه د امریکایي ځواکونو په بمباری کې ووژل شول. د روهي وېبپاڼې د خبر له مخې، د پکتیا یو سیمه ییز چارواکی ګلاب شاه، چې لومړی دوه تنه اورپکي د ماین د خپلولو په شک وویشتل شول، خوکله چې وروسته یو شمېر کسانو غوښتل د دوی مړي له سیمې ځخه انتقال کړي امریکایي چورلکو پر دوی باندې بریدوکړ او لږ تر لږه لس تنه نور یې هم ووژل. د ده په وینا، چې دوی سیمې ته خپل کسان استولي ځو ګوري چې وژل شوي کسان وسلوال وو او که ملکي وګړي. په دې مانا چې دوی یې لومړی وژنې بیا یې ګوري چې څوک وو.

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي. نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمد"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com